Te Korowai Whetū
Social Cohesion

# سیمه ایز حکومت څه ډول مرستې کولی شي؟

## Social Cohesion Guide for Local Government

## په سیمه ایز حکومت پورې تړاو

سیمه ایز حکومت د سیمه ایزو ټولنو استازیتوب کوي، دا له خلکو سره مرسته کوي چې دوی احساس کړي چې دوی سره تړاو لري، په ټولنه کې شامل دي، په طبیعي ډول چلند وکړي او په ټولنه کې برخه واخلي. سیمه ایزې شوراګانې د ځایي مسلو په تړاو د اوسیدونکو سره مستقیم کار او د ټولنې لخوا د ځانګړي ملاتړ پروګرامونو سره د ټولنې په مشرۍ حلولولو کې ګډون کوي. په دې پروګرامونو کې د لاندینیو موضوګانو څخه ملاتړ شاملیدای شي:

- کور لرونکی، بې کوره
- معلولیت لرونکو اوسیدونکو ته لاسرسي
- ټولنیز مرکزونه
- وړیا کارکول
- د ټولنې خوندیتوب
- متنوع، ماوري (Māori)، د ارام سمندر اوسیدونکي، لوړ پوړي اتباع، ځوانان، عقیدوي ټولنې
- هنرونه او کلتور

تاسوړ که په هره ټولنه کې یاستئ که دا ستاسو کوڅه وي، ستاسو ګاونډ، کلب، مسلکي ټولنه، ښوونځی، د عبادت ځای یا کلتوري ډله - دا ښه احساسیږي چې د ټول شموله او پیوستون احساس وکړئ، په طبیعي ډول چلند وکړئ او په څه کې ګډون وکړئ.

موږ ټول مختلف یو خو غواړو چې له یو بل سره اړیکې ولرو، خپل تنوع ومانځو او کله چې د نورو سره موافق نه یو نو د هغوی درناوی وکړو. دا مهمه ده ځکه چې ټول خلک داسې احساس نه لري چې هغوی اوس څنګه دي او څنګه جوړیدی شي، یا په دې خبره باور ولري چې د هغوی غږ به واوریدل شي.

موږ مخ پر زیاتیدو متنوع او د ډېرو بیلا بیلو ټولنو درلودونکی هیواد یو او موږاړتیا لرو چې یو بل ته د اوریدو او غوږ نیولو لارې چارې پیدا کړو. موږ غواړو د خپلو توپیرونو او قوتونو درک کولو ته ژمن شو، په هغه څه کار وکړو چې موږ سره متحد او یو بل ته مو نږدې کوي.

پیوستون
# - هغه څه ډول ښکاري

په یوه ټولنه کې چې موږ ټول په ښه توګه سره اړیکه نیسو، نو یو بل او خپل ګاونډیان پیژنو، د کار ځای کې د ګډون احساس کوو، نو ماشومان مو ځانونه د ټولنې برخه احساسوي او موږ پوهیږو چې د اړتیا په وخت کې د مرستې لپاره چیرته لاړ شو. موږ احساس کوو چې موږ د هغو خلکو سره د خبرو کولو توان لرو چې موږ ښایي په نورمال ډول ورسره خبرې کړې نه وي، کله چې موږ د خلکو تبعیضي خبرې اورو، نو پر وړاندې یې غبرګ پورته کړو، او په ادامه یې ور یادوو چې موږ څوک یو، د کوم ځای یو او کارونه څنګه تر سره کوو. په بحران کې موږ هیڅوک شاته نه پریږدو، هر څوک پکې شامل دي.

د نورو پیوستونونو جوړول
# - تاسو څه کولی شئ

**موږ نو له سمیه ایز حکومت سره څه کولی شو چې پر مټ یې له خلکو سره مرسته وکړو ترڅو له موږ سره یو ځای شي، تنوع ته غاړه کیږدي، د پیوستون احساس وکړي، برخه واخلي، په نورو باور وکړي او د درناوي احساس وکړي؟**

### پیوستون او په نورو باور کول

- د ایوي (Iwi)، پن ماوري (pan-Māori) سازمانونو، او نادولتي موسسو (NGOs) سره همکاري وکړئ ترڅو په سیمه ایزه کچه د خلکو سره د مرستې لپاره سیمه ایزه رهبري شوې طریقې رامینځته کړي.
- په مناسبو وختونو کې د ټولنو سره د دوی په ځایونو کې د لیدو لپاره وخت ونیسئ چې باور او اړیکې مو رامنځته شي:
- مثلاً، د اکلینډ په شورا کې سویلي نوښت د سیمه ایزې شورا کارکوونکې، کورنۍ، ډلې، نا دولتي موسسې (NGOs) او سوداګرۍ سره یوځای کوي ترڅو په سویلي اکلینډ کې د ټولنیز او اقتصادي ننګونو لپاره د حل لار پیدا کړي.

### د اختلاف منل او د درناوي احساس کول

- کارکوونکي د ټول شموله مشري او کلتوري وړتیا روزنې ته وهڅوئ او ټولنو ته د لاسرسي وړ ټولنیز ځایونه چمتو کړئ چې درسره په اړیکه کې شي.

### لاندینۍ بیلګې پکې شاملیږي:

- د نیوزیلینډ د مهاجرو ټولنو د ښه راغلاست پروګرام سره نښلول
- د ټایتووارا (Taituarā's) ("د سیمه ایز حکومت د مدیرانو پخوانۍ ټولنه") د تنوع او شمولیت وړتیا لوړولو د لیپ (Leap) پروګرام کارول.
- د ټایتووارا (Taituarā's) د ټولنې د هوساینې د ډیټا خدمت وکاروئ ترڅو تاسو د ټولنې د هوساینې په اوسني حالت پوه شئ او چیرې چې تاسو کولی شئ د هغې د ښه کولو لپاره پر خپلو هڅو تمرکز وکړئ.

### دتړاو احساس

مختلف ګروپونه وهڅوئ چې په ګډه سره مثبت کار وکړي ترڅو چمتو کړي:

- د متناسب راپور ورکولو اړتیاوو سره د ټولنې غونډو لپاره د لاسرسي وړ مرستو تمویلول
- د ټولنې د مرکز د یا تخفیف لرونکي اجیرونې خدمتونه
- د ټولنې وړیا خدمتونه
- د ګاونډیانو او ټولنو ته د ګاونډیانو د مراسمو د ترسره کولو لپاره په وړیا توګه د ځای چمتو کول

### برخه اخیستل

- د اوونۍ په ورځو او د اوونۍ په رخصتیو کې د مازیګر له ۵ بجو وروسته خلکو ته د اسانه او لاسرسي وړ مشورتي ناستې، د ستونزمنو ټولنو ته لاسرسی، په پریکړو کې د Māori استازیوتوب پیاوړتیا، او همدارنګه د مشرۍ تر ټاکنو پورې د مدني زده کړو وړیا ورکشاپونه چمتو کړئ یا په پراخه کچه د مدني زدکړو لپاره تمویل چمتو کړئ.
- د social cohesion لپاره د اوږمهاله سیمه ایز حکومت پلان ته د پرمختګ په تړاو د اوونۍ په پای کې غونډې ترسره کړئ.
- د Te Reo Māori، Aotearoaد نیوزیلینډ تاریخ، Te Tiriti o Waitangi، په اړه نور معلومات ترلاسه کړئ. د وړیا آنلاین اپیونو (apps) لکه Kupu ، Kōrerorero او Ako Tahi په کارولو سره زده کړئ او یا د Te Wānanga o Aotearoa له لارې کورس ته نوم لیکنه وکړئ، په خپل محلي موزیم کې د تاریخ نندارتونونو څخه لیدنه وکړئ، یا د خپل سیمه ایز کتابتون څخه د ان زایټ (NZ) تاریخ کتابونه په پور واخلئ.
- د هغه چا سره په زړورتیا خبرې وکړئ چې تبعیضي چلند څرګندوي. د بشري حقونو د کمیسیون د ویب پاڼه سرچینې ګټورې کیدای شي، لکه دResponding to Racism .
- د کارکوونکو او نورو استازو لپاره په روزنې کې د نوښتونو په لټه کې شئ.
- دولتي ادارو ته د تمویل غوښتنلیکونو لپاره غوښتنه وکړئ ترڅو ستاسو د کلتوري سکتور پروژې تمویل کړي، COGS یا لاټرۍ د بسپنه مدیریت سیستم یا د ټولنې په مشرۍ پراختیایي پروګرام له لارې.